# د محصل محوري زده کړو اهمیت او اغېزې: په پکتیکا پوهنتون کې د یوه حالت څېړنه


**پوهنمل حزب الله رحماني**

بیولوژي څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه، پکتیکا، افغانستان
ایمیل: hezbullah.rahmani@gmail.com



**لنډیز**

د افغانستان له پوهنتونو څخه اکثره فارغ شوي محصلین په ډېرو اکاډمیکو برخو کې مسلکي وړتیاوې نه لري، چې د حکومت او ګمارونکو اړتیاوې نشي پوره کولای. همدې ستونزې ته په کتو سره دا څېړنه په پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه کې چې د بیولوژي څانګې ۶۴ محصلینو او فارغانو پکې برخه اخیستې وه تر سره شوې ده. دا یوه کمي، ساحوي او تحلیلي څېړنه ده، چې لومړني معلومات یې د پوښتنپاڼو او ساحوي مشاهدې په وسیله راټول شوې دي. د څېړنې پایلې دا روښانه کوي چې استاد محوري میتود د محصلینو د مسلکي وړتیا نه لرلو ستر لامل دی. برعکس محصل محوري زده کړې په محصلینو کې د نظر شریکولو، مفاهمې، پر ځان باور، انتقادي تفکر، ابتکارانه او د ستونزو د حل مهارتو په انکشاف کې مهم او اساسي رول تر سره کوي.


**کلیدی اصطلاحات:** محصل محوري زده کړې؛ استاد محوري میتود؛ مسلکې وړتیا؛ مهارتونه

# The Importance and Effects of Student-Centered Learning: A Case Study in Paktika University


**Sr. Teaching Asstt. Hizbullah Rahmani**

Biology Department, Faculty of Education, Paktika Higher Education Institute, Paktika, Afghanistan
Email: hezbullah.rahmani@gmail.Com



**Abstract**

Many Afghan university graduates lack professional qualifications in their respective fields, rendering them ineligible for government positions and many private-sector jobs. This study examines this issue, involving 64 current and former biology department students from Paktika Higher Education Institute. The study employs quantitative empirical research methods, gathering data through questionnaires and on-the-ground observations. The findings point to a teacher-centered approach as the primary cause of students' lack of professional ability, highlighting the critical importance of student-centered learning in developing students' communication, understanding, self-confidence, critical thinking, initiative, and problem-solving skills.


**Keywords:** Professional ability; Student-centered learning; Skills; Teacher-centered methods

**سریزه**

د افغانستان له پوهنتونو څخه اکثره فارغان په زیاتره علمي برخو کې مسلکي وړتیا نه لري او د ګومارونکو اړتیاوي نه شي پوره کولای. همدي ستونزې ته په کتو سره دا څېړنه د پکتیکا لوړو زده کړو په مؤسسې کې د محصل محوري زده کړو د اهمیت او اغېزو د معلومولو په خاطر شوي ده. همدارنګه دغه څېړنه دي پوښتونو ته ځواب وایې چې، اوس مهال د افغانستان په پوهنتونو کې د محصل محوري زده کړو په وړاندي کوم خنډونه وجود لري او کوم عوامل دي چې د محصل محوري زده کړو له انکشاف سره مرسته کولای شي؟

**د څېړنې مخینه**

په افغانستان کې له پوهنتونو څخه فارغان په ډېرو اکاډمیکو برخو کې د حکومت، سوداګرۍ او نورو ګومارونکو اړتیاوي نه شي پوره کولای. د بیلګې په توګه د انجنیري په برخه کې د نړیوال بانک او USAID د لویې پانګونې سره سره ګومارونکي شکایت کوي چې اوسط فارغان د اړتیا وړ معیارونه نه شي پوره کولای (Babury & Hayward, 2014). پوهنتونونه باید مسلک لپاره چمتو فارغان تولید کړي، داسي چې راتلونکی یې منعکس کړي چې دا زده کونکي به ورسره مخ شي. همدا شان باید د وسیلو له لارې زده کړې اسانه کړي چې د زده کونکو د دې نسل له ټاکلو ځانګړتیاو سره سمون ولري ( Glowa & Goodell, 2016). اوس مهال په نړیواله کچه محصل محوري زده کړو (SCL) د څېړنې خورا لوی پام ځانته راجلب کړی دی (Osman,et al, 2015). پخوانۍ تدریسي او د زده کړي پروسې په فعال ډول د استاد له خوا تر سره کیدلې چي اوس مهال دا میتود له محصل محوري میتود سره عوض شوی دی. محصل محوري میتود یو داسي چاپیریال رامنځ ته کوي چې په هغه کې محصل اساسي موادو او منابعو ته د لاس رسي په وسیله د پوهې په تر لاسه کولو کې زیات فعال وي (Judia & Saharia, 2013) . محصل محوري زده کړو د دودیزه زده کړې او د تدریس مسلک بدل کړی دی. په محصل محوري زده کړو کې د منځګړیتوب وسایل لکه د همکارۍ زده کړه، د ستونزې پر بنسټ زده کړه، د کوچني ګروپ زده کړه او د پروژې پر بنسټ زده کړه شامل دي (Abdigapbarova & Zhiyenbayeva, 2022 ) . استاد محوري زده کړې د محصلینو هڅونه او خپلواکي راکموي. په زده کړه کې د زده کونکو ښکېلتیا څلور اړخه لري چې عبارت دي له:د مهارت ښکېلتیا، احساساتي ښکېلتیا، د ګډون ښکېلتیا او د فعالیت ښکېلتیا (Gaffney, and Rogers, 2022). محصل محوري زده کړې د زده کړو په ټولو کچو کې خورا مهم رول تر سره کوي، دا ځکه چې دا د زده کونکو د هڅونې او ښکېلتیا کچه زیاتوي (Benlahcene,et al,2020). په استاد محوري میتود کې استادان د تدریس په پروسه کې مهم رول تر سره کوي. استادان د معلوماتو چمتو کونکي یا

ارزونکي دي ترڅو زده کونکي وځاري او ځوابونه ترلاسه کړي (Ho, 2017). محصل محوري زده کړې په اوسني عصر کې تعليم د پايداره پرمختګ (Education for sustainable development(ESD) لپاره تر ټولو اساسي او مهم عنصر ګڼل کيږي. له بله طرفه په ښکاره توګه د تعليم لپاره د SDG اهدافو د يوې مهمې برخې په توګه پيژندل شوي (هدف ۴. ۷) او د ټولو ۱۷ SDGs لاسته راوړلو لپاره اصلي چلوونکی ESD ګڼل کيږي. له بله طرفه، په ښکاره توګه د تعليم لپاره د SDG اهدافو د يوې مهمې برخې په توګه پيژندل شوی (هدف ۴. ۷) او د ټولو ۱۷ SDGs لاسته راوړلو لپاره اصلي چلوونکی عامل ګڼل کيږي، دا يو مرکزي تمرين دی چې "افرادو ته وړتيا ورکوي چې پايداره پرمختګ سره د ټولنيز، اقتصادي او سياسي بدلون او همدارنګه د خپل چلند په بدلو سره مرسته وکړي(Komatsu et al, 2021). محصل محوري زده کړې په لوړو زده کړو کې د زده کونکو سره په ځواکمن کيدلو، په ځان باور پيداکولو او په خودي ډول هڅول کيدو کې مرسته کوي. همداشان په زده کونکو کې د مطالعې مهارتونو لکه د وخت مديريت، مفاهمي، انتقادي تفکر، او د ستونزې حل کولو مهارتونو ته وده ورکوي(Krishnan, 2015). څيړنې وړانديز کوي چې ډيري وختونه محصلين د استاد په نسبت له خپلو ملګرو څخه ښه زده کړه کولای شي. هغه محصلين چې ځانګړي اړتياوي لري، له تکړه محصلينو سره په ګروپ کې د يو ځاي کولو په وسيله د دوي وړتياوي لوړ والی شو (Overby, 2011). په پکتيکا لوړو زده کړو مؤسسه کې اکثره استادان د استاد محوري ميتود په اساس تدريس کوي. لکه څرنګه چې په انځور (۱) کې ليدل کيږي استاد محوري ميتود کې يوازي استاد فعال وي او محصلين تنها اوريدل کوي. پدي ميتود کې استاد د زده کړې په پروسه کې مرکزي رول تر سره کوي او محصلين غيري فعال وي.



لومړی انځور: د پکتيکا لوړو زده کړو مؤسسې ، ښوونې او روزنې پوهنځی په بيولوژي څانګه کې د استاد محوري ميتود په اساس تدريس

په (۲) انځور کې لیدل کیږي چې یو بل استاد په همدې څانګه کې له محصل محوري میتود څخه استفاده کوي. لکه څرنګه چې په دویم انځور کې لیدل کیږي ټول محصلین د زده کړې په پروسه کې راښکیل شوي دي او یو د بل په مرسته زده کړه کوي. پدې ټولګې کې استاد د یوه لارښود او د ټولګې د تنظمیونکې په حیث رول تر سره کوي. په انځور (۲)، کې لیدل کیږي چې محصلین په ګروپونو کې تنظیم شوي دي او ټولومحصلینو د زده کړې په پروسه کې په فعال ډول برخه اخیسته ده.



دویم انځور: د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسې ، ښوونې او روزنې پوهنځې په بیولوژې څانګه کې د محصل محوري زده کړو په اساس تدریس.

## مواد او کړنلاره

ددې څېړنې د سرته رسولو لپاره کمي (Quantitative) میتود د څېړنې د میتودولوژې په حیث انتخاب شوی دی. د څېړنې لومړني معلومات د مشاهدې او د پوښتنپاڼې په وسیله چې په ګوګل فورم کې ترتیب او په انلاین بڼه محصلینو ته لیږل شوي وه تر لاسه شویدي او دویمې معلومات تر لاسه کولو لپاره له بیلابیلو علمي منابعو لکه کتابونو، ژورنالونو او د کنفرانسونو له نشریو څخه ګټه اخستل شویده. پدې څېړنه کې د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځی د بیولوژی څانګې د ۹۸ برحاله او په ۱۴۰۰ او ۱۴۰۱ ل. ل کالو کې د ۱۰۸ فارغیو شویو محصلینو له جملې څخه ٦۴ تنو محصلینو برخه اخستې وه. لاسته راغلې نتایج د SPSS ۲۴ په وسیله تحلیل شوي دي. د څېړنې د تحلیل میتود Frequency او Percentage وه . ځکه دا میتود د پوښتن پاڼو د تحلیل لپاره تر ټولو غوره او مناسب میتود دی. په جدول (۱)، کې د څېړنې موندنې وړاندې شوي دي:

لومړی جدول: د څېړني موندنې

| سؤالونه | پارامیترونه | په سروي کې د برخه اخیستونکو ځوابونه | |
|---|---|---|---|
| | | *Frequency* | *Percentage* |
| د زده کړو کچه. | دویم ټولګی | ۱۰ | ۱۵,۸ |
| | دریم ټولګی | ۱۸ | ۲۸,۱ |
| | څلورم ټولګی | ۱۱ | ۱۷,۲ |
| | له بیولوژي څانګې څخه فارغ | ۲۵ | ۳۹ |
| | مجموعه | ٦۴ | ۱۰۰,۰ |
| استاد محوري میتود کې یوازي استاد فعال وي او محصل یوازي اوریدل کوي. | ډیر زیات مخالف یم | ۱ | ٦.۱ |
| | زیات موافق | ۳۰ | ۹.۴٦ |
| | مخالف یم | ۹ | ۱.۱۴ |
| | مطمین نه یم | ۳ | ۷.۴ |
| | موافق | ۲۱ | ۸.۳۲ |
| | مجموعه | ٦۴ | ۰.۱۰۰ |
| محصل محوري میتود کې محصل فعال وي او استاد د یو لارښود په حیث فعالیت تر سره کوي. | زیات موافق یم | ۴۲ | ٦.٦۵ |
| | مخالف | ۱ | ٦.۱ |
| | مطمین نه یم | ۲ | ۱.۳ |
| | موافق | ۱۹ | ۷.۲۹ |
| | مجموعه | 64 | ۰.۱۰۰ |
| تاسو هغه وخت ښه زده کړه کولای شي چي کله په یوه ګروپي فعالیت کې برخه واخلې. | ډیر زیات موافق | ۴۲ | ٦.٦۵ |
| | مطمین نه یم | ۲ | ۱.۳ |
| | مخالف | ۴ | ۳.٦ |
| | موافق | ۱٦ | ۰.۲۵ |
| | مجموعه | ٦۴ | ۰.۱۰۰ |
| تر ټولو ښه ازموینه هغه ده چي په هغه کې د محصل ازموینې پارچې ته زیاتي نمرې او صنفي فعالیت ته یې لږ یا هیڅ نمرې ورنه کړل شي. | ډیر زیات مخالف | ۱ | ٦.۱ |
| | ډیر زیات موافق | ۹ | ۱.۱۴ |
| | مخالف | ۲۷ | ۲.۴۲ |
| | مطمین نه یم | ۱۸ | ۱.۲۸ |
| | موافق | ۹ | ۱.۱۴ |
| | مجموعه | ٦۴ | ۰.۱۰۰ |
| تر ټولو ښه ازموینه هغه ده چي په هغه کې د محصلینو فعالیتونو ته زیاتي او د ازموینې پارچې ته کمي نمري ورکړل شي. | ډیر زیات موافق | ۲۲ | ۴.۳۴ |
| | مخالف | ۱۴ | ۹.۲۱ |
| | مطمین نه یم | ۱۲ | ۸.۱۸ |
| | موافق | ۱٦ | ۰.۲۵ |
| | مجموعه | ٦۴ | ۰.۱۰۰ |
| ګروپي کار په زړه کړه کې مرکزي رول تر سره کوي. | ډیر زیات موافق | ۲۹ | ۳.۴۵ |
| | مطمین نه یم | ٦ | ۴.۹ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | موافق | ۲۹ | ۳.۴۵ |
| | مجموعه | ٦۴ | ۰.۱۰۰ |
| محصل محوري میتودونه له محصلینو سره د نظر په شریکولو کې مرسته کوي. | ډیر زیات موافق | ۳۵ | ۷.۵۴ |
| | مطمین نه یم | ۳ | ۷.۴ |
| | موافق | ۲٦ | ٦.۴۰ |
| | مجموعه | ٦۴ | ۰.۱۰۰ |
| محصل محوري میتودونه د محصلینو د مفاهمې مهارتونه لوړوي. | ډیر زیات موافق | ۳۱ | ۴.۴۸ |
| | مخالف | ۱ | ٦.۱ |
| | مطمین نه یم | ۸ | ۵.۱۲ |
| | موافق | ۲۴ | ۵.۳۷ |
| | مجموعه | ٦۴ | ۰.۱۰۰ |
| محصل محوري میتودونه په محصلینو کې ابتکارنه مهارتونو ته انکشاف ورکوي. | ډیر زیات موافق | ۲۹ | ۳.۴۵ |
| | مخالف | ۱ | ٦.۱ |
| | مطمین نه یم | ۵ | ۸.۷ |
| | موافق | ۲۹ | ۳.۴۵ |
| | مجموعه | ٦۴ | ۰.۱۰۰ |
| محصل محوري زده کړې د محصلینو ټولنیز ژوند اصلاح کوي. | ډیر زیات موافق | ۲۳ | ۹.۳۵ |
| | مخالف | ۱ | ٦.۱ |
| | مطمین نه یم | ۱۱ | ۲.۱۷ |
| | موافق | ۲۹ | ۳.۴۵ |
| | مجموعه | ٦۴ | ۰.۱۰۰ |
| محصلین په محصل محوري میتودونو کې نسبت استاد محوري میتودونو ته زیاته زده کړه کوي. | ډیر زیات موافق | ۳۰ | ۹.۴٦ |
| | مخالف | ۲ | ۱.۳ |
| | مطمین نه یم | ۵ | ۸.۷ |
| | موافق | ۲۷ | ۲.۴۲ |
| | مجموعه | ٦۴ | ۰.۱۰۰ |
| ستاسو په نظر له لاندنیو څخه د محصل محوري زده کړو په وړاندې جدي ګواښونه ګڼل کیږي؟ له یو څخه زیات ځوابونه په نښه کولای شي. | ۱. غیري معیاري ټولګي | ۲٦ | |
| | ۲. له محصل محوري میتود سره د استادانو نه بلدتیا | ۳۵ | |
| | ۳. ددي میتود اړوند د محصلینو | ۲۰ | |
| | منفي نظریات. | ۱۴ | |
| | ۴. د بودیجې کموالي | | |
| | ۵. د محصل محوري میتود اړوند د | ۱۱ | |
| | څېړنو نشتوالی. | ۱۱ | |
| | ٦. د ارزیابي پخوانې تګلارې | ۹ | |
| | ۷. د محصلینو غیري مناسبه برخه اخیستنه. | ۱۲ | |

| | | |
|---|---|---|
| | ۸. د استادانو او محصلینو تر منځ په ټیټه کچه د همکارۍ موجودیت. | |
| ستاسو په نظر کوم یو له لاندنیو څخه د محصل محوري میتود په انکشاف کې مهم رول تر سره کولای شي؟ له یو څخه زیات ځوابونه په نښه کولای شي. | ۱. استادانو ته ددې میتود اړوند روزنیز ورکشاپونه دایرول او د هغوی له تدریس څخه نظارت کول. | ۳۵ |
| | ۲. د معیاري ټولګیو، او نورو | ۳۲ |
| | ضرورت وړ امکاناتو اماده کول. | ۱۷ |
| | ۳. په پالیسو کې تغیرات راوستل. | |
| | ۴. د کیفیت لوړاوي په برخه کې محصل محوري میتود ته زیات | ۱۳ |
| | ارزښت ورکول. | ۳۳ |
| | ۵. محصلینو ته د محصل محوري زده کړو د اهمیت اړوند معلومات ورکول. | |

**موندنې**

په دې څېړنه کې چې کومه پوښتنپانه کارول شوی وه د مختلفو برخو لکه د ګډونوالو د زده کړو د کچې اړوند، د استاد محوري میتود، محصل محوري زده کړو، د محصل محوري زده کړو د اهمیت، د محصل محوري زده کړو په وړاندې د جدي ګواښونو او د انکشاف اړوند معلوماتو لرونکې ده. ددې څېړنې په سروې کې د برخه اخیستونکو ۸,۷۹ سلنه پدې باور دي چې په استاد محوري میتود کې یوازې استاد فعال وي. همدارنګه ۳,۹۵ سلنه محصلینو د نظر په اساس محصل محوري زده کړو کې محصلین فعال وي او استاد د یوه لارښود په حیث دنده تر سره کوي. ددې څېړنې ۳,۹۵ سلنه برخه وال پدې باور دي چې محصل محوري زده کړې له محصلینو سره د نظر په شریکولو، ۹,۸۵ سلنه د مفهامې مهارتونو او ۶,۹۰ سلنه ابتکارانه مهارتونو په انکشاف کې مرسته کوي او ۲,۸۱ سلنه محصلین وایي چې محصل محوري زده کړې ټولنیز ژوند اصلاح کوي. همدارنګه د ۱,۸۹ سلنه محصلینو د نظر په اساس محصلین په محصل محوري زده کړو کې نسبت استاد محوري میتود ته زیات فعال وي او هم ښه زده کړه کولای شي. د محصلینو د نظر په اساس د محصل محوري زده کړو په وړاندې غیري معیاري ټولګي، د محصل محوري زده کړو سره د استادانو نه بلدتیا، ددې میتود اړوند د محصلینو منفي نظریات، د بودجې کموالی، د محصل محوري میتود اړوند د څېړنو نشتوالی، د ارزیابي زړې تګلارې، د محصلینو غیري مناسبه برخه اخیستنه او د استادانو او محصلینو تر منځ په ټیټه کچه د همکارۍ موجودیت جدي ګواښونه ګڼل کیږي.

**مناقشه**

د څېړنې موندنو ته په کتو سره په افغانستان کې له پوهنتونو څخه د فارغ شویو محصلینو مسلکي وړتیا نه لرلو ستر لامل د استاد محوري میتود په اساس تدریس دی. ددې څېړنې په سروې کې د برخه اخیستونکو ۸,۷۹ سلنه پدې باور دي چې په استاد محوري میتود کې یوازې استاد فعال وي. همدارنگه ۳,۹۵ سلنه محصلینو د نظر په اساس محصل محوري زده کړو کې محصلین فعال وي او استاد د یوه لارښود په حیث دنده تر سره کوي. د افغانستان په ډیرو پوهنتونو کې په تدریس کې له استاد محوري میتود څخه گټه اخیستل کیږي . په همدې خاطر اکثره محصلین د نوي عصر د کار د بازار معیارونه نه شي پوره کولای. استاد محوري یا غیري فعاله زده کړه هغه ده چې په هغې کې استاد اساسي رول تر سره کوي Zohrabi, ) Torabi, & Baybourdiani, 2012). لکه څرنگه چې په جدول (۱)، کې لیدل کیږي ٦,۹۰ سلنه محصلین هغه وخت ښه زده کړه کولای شي چې کله یو گروپي فعالیت تر سره کړي. ددې څېړنې ٦,۹۰ سلنه برخه وال پدې نظر دي چې په محصل محوري زده کړو کې محصلین د تدریس په پروسه کې مرکزي رول تر سره کوي. په محصل محوري زده کړو کې استاد د یو تسهیل کونکی او منځگړی رول تر سره کوي او محصل د زده کړې د پروسې په مرکز کې قرار نیسي. په محصل محوري زده کړو کې محصلین د زده کړې د پروسې جوړونکي گڼل کیږي. پداسې حال کې چې استاد پکې د معلوماتو د چمتوکونکی او سمونکی رول اجراء کوي (Abdigapbarova & Zhiyenbayeva, 2022 ) . ددې څېړنې ۳,۹۵ سلنه برخه وال پدې باور دي چې محصل محوري زده کړې له محصلینو سره د نظر په شریکولو ، ۹,۸۵ سلنه د مفهامې مهارتونو او۲,۹۰ سلنه ابتکارانه مهارتونو په انکشاف کې مرسته کوي او ۲,۸۱ سلنه محصلین وایي چې محصل محوري زده کړې ټولنیز ژوند اصلاح کوي. همدارنگه د ۱,۸۹ سلنه محصلینو د نظر په اساس محصلین په محصل محوري زده کړو کې نسبت استاد محوري میتود ته زیات فعال وي او هم ښه زده کړه کولای شي. په لوړو زده کړو کې محصلین د محصل محوري زده کړو په وسیله خودمختاره، په ځان اعتماد لرونکي او په خودي ډول-تحریک کیږي. همدا شان محصل محوري زده کړې په محصلینو کې د مطالعې مهارتونو لکه د وخت مدیریت، افهام او تفهم، انتقادي تفکر او ستونزې- حلونکي مهارتونو( problem solving) ته انکشاف ورکوي(Krishnan, 2015) . د محصل محوري زده کړو په چاپیریال کې د محصلینو د برخې نه اخیستل او د استاد له خوا د یوه تسهیل کونکي په حیث د رهنمایې او هڅونې نه شتون د محصل محوري زده کړو اغېزمنتیا له منځه وړي (Krishnan, 2015). دودیزې زده کړې پورې تړلي د ارزونې طریقې د محصل محوري زده کړو لپاره مناسبي ندي (Pedersen & Williams, 2004).

استادانو ته ددې میتود اړوند روزنیز ورکشاپونه دایرول او د هغوي له تدریس څخه نظارت کول، د معیاري ټولګیو، او نورو ضرورت وړ امکاناتو اماده کول، په پالیسو کې تغیرات راوستل د کیفیت لوړاوي په برخه کې محصل محوري زده کړو ته زیات ارزښت ورکول او محصلینو ته د محصل محوري زده کړو د اهمیت اړوند معلومات ورکول هغه مهم او اساسي عوامل دي کوم چې په پوهنتونو کې د محصل محوري زده کړو له انکشاف سره مرسته کولای شي. په لوړو زده کړو کې د محصل محوري زده کړو د انکشاف لپاره تضمین کیفیت، قانوني کړنلارې او د محصل د برخې اخیستنې اړوند پالیسوي تر ټولو مهم عناصر دي چې باید جدي پاملرنه ورته وشي(Geven, & Santa, 2010) .

**پایله اخیستنه**

ددې څېړنې د پایلو پر بنسټ ۷۹. ۸ سلنه محصلین پدې باور دي چې په استاد محوري میتود کې یوازې استاد فعال وي او ۹۵. ۳سلنه محصلینو د نظر په اساس محصل محوري زده کړو کې محصلین فعال وي او استاد د یوه لارښود په حیث دنده تر سره کوي. په محصل محوري زده کړو کې محصلین نسبت استاد محوري متیود ته زیاته زده کړه کولای شي. محصل محوري زده کړې په محصلینو کې د مفاهمې، په ځان باور، د وخت مدیریت، د ستونزو د حل، د نظر شریکولو او انتقادي تفکر مهارتونو په انکشاف کې مرسته کوي. د افغانستان په پوهنتونو کې د محصل محوري زده کړو د تطبیق په وړاندې غیري معیاري ټولګي، ددې میتود اړوند د محصلینو منفي نظریات، د بودیجې کموالی، د محصل محوري زده کړو اړوند د څېړنو نه شتوالی، د د ارزیابي پخواني تګلارې، د محصلینو غیري مناسبه برخه اخیستنه اود استادانو او محصلینو تر منځ په ټیټه کچه د همکاري موجودیت جدي ګواښونه ګڼل کیږي. استادانو ته ددې میتود اړوند روزنیز ورکشاپونه دایرول او د هغوي له تدریس څخه نظارت کول، د معیاري ټولګیو، او نورو ضرورت وړ امکاناتو اماده کول، په پالیسو کې تغیرات راوستل د کیفیت لوړاوي په برخه کې محصل محوري زده کړو ته زیات ارزښت ورکول او محصلینو ته د محصل محوري زده کړو د اهمیت اړوند معلومات ورکول هغه مهم او اساسي عوامل دي کوم چې په پوهنتونو کې د محصل محوري زده کړو له انکشاف سره مرسته کولای شي.

**سرچینې**

Abdigapbarova, U. , & Zhiyenbayeva, N. (2022). Organization of Student-Centered learning within the Professional Training of a future teacher in a Digital Environment. Education and Information Technologies. doi:doi. org/10. 1007/s10639-022-11159-5

Babury, M. , & Hayward, F. (2014). Afghanistan Higher Education:The Struggle for Quality, Merit, and Transformation. Planning for Higher Education Journal, 1-32.

Benlahcene, A. , Lashari, S. A. , Lashari, T. A. , Shehzad, M. W. , & Deli,
W. (2020). Exploring the Perception of Students Using Student-
Centered Learning Approach in a Malaysian Public University
. International Journal of Higher Education, 9(1), 204-217.

Geven,, K. , & Santa, R. (2010). Student Centered Learning:A survey on the views of national unions of students and higher education staff. European Comission.

Gaffney, and Rogers, S. (2022). Examining the Impact of a Student-
Centered Learning and Assessment Strategy on Engagement among Nursing Students. Journal of Quality in Health Care &
Economics, 5(4), 1–4. https://doi. org/10. 23880/jqhe-16000293

Glowa, L. , & Goodell, J. (2016). Student-Centered Learning: Functional Requirements for Integrated Systems to Optimize Learning. International Association for K-12 Online Learning.

Ho, K. &. (2017). Teacher-centered or Student-centered Learning Approach to Promote Learning ? Jurnal Sosial Humaniora, 10, 59–70.

Judia, H. , & Saharia, N. (2013). Student Centered Learning in Statistics: Analysis of Systematic Review. 13thInternational Educational Technology Conference (pp. 844-851). Social and Behavioral Sciences.

Komatsu, H. , Rappleye, J. , & Silova, I. (2021). Student-centered learning and sustainability: Solution or problem? Comparative Education Review, 65(1), 6–33. https://doi. org/10. 1086/711829

Krishnan, S. (2015). Student-Centered Learning in a First Year Undergraduate Course. International Journal of Learning, Teaching and Educational Research, 11(2), 88–95.

Osman, S. Z. M. , Jamaludin, R. , & Iranmanesh, M. (2015). Student Centered Learning at USM: What Lecturer and Students Think of This New Approach? Journal of Education and Practice, 6(19), 264-277.

Overby, Kimberly (2011) "Student-Centered Learning," ESSAI: Vol. 9,
Article 32. Available at: http://dc. cod. edu/essai/vol9/iss1/32

Pedersen, S. & Williams, D. (2004). A Comparison of Assessment
Practices and Their Effects on Learning and Motivation in a
Student-Centered Learning Environment. Journal of Educational
Multimedia and Hypermedia, 13(3), 283-306. Norfolk, VA: Association for the Advancement of Computing in Education (AACE).

Zohrabi, M. , Torabi, M. , & Baybourdiani, P. (2012). Teacher-centered and/or Student-centered Learning:English Language in Iran. English Language and Literature Studies, 18-30. doi:10. 5539/ells. v2n3p18